## د پیل خبرې

په وروستیو وختونو کې د پښتو ژبې د بډاینې لپاره هڅې شوې او تر ډېره بریده په هر اړخ کې د پرمختګ په لور ګامونه اخلي. په دې لړۍ کې موږ هم د یوه ځاځکې په اندازه برخه واخیسته او د نوې ټکنالوجي په برخه کې مو د مایکروسافټ وینډوز پروګرام په اړه ځینې مطالب په لنډ ډول چمتو کړل.

تر خپل وس او توان پورې مې د لفظي ستونزو په له منځه وړلو کې هڅه کړې. دغه تیار شوی لارښود به له تېروتنو سره څکه مل وي ، چې د زده کوونکو د فشارونو او بیا بیا غوښتنو له امله مې د ګوتو په شمار ورځو کې چمتو کړ. په همدې هیله چې پښتانه وروڼه او خویندې به ترې ګټه واخلي. د تېروتنو په صورت کې ښښنه راته وکړئ او سالیمې نیوکې مه راخخه سپموئ.

په درنښت

وکیل احمد ترابي

اسلامي تمدن پلازمېنه - غزنی

Afghan Sayed Jamaludin Computer Center
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کمپیــــــوټر

## کمپیوټر څه شی دی؟

**Definition:** Computer is taken from a Latin word *compute* which means Calculation.

**تعریف:** د کمپیوټر کلیمه له لاتیني کلیمې Compute څخه اخیستل شوې چې د حساب کولو په مانا ده. او د Computer کلیمه د حساب کوونکي په مانا ده.

په لومړي ځل کمپیوټر د حساب کولو لپاره جوړ شو. خو نن‌ی کمپیوټر ډېر پرمختللی دی او ژوند ډېر ګران کارونه يې اسانه کړي. ددې تر څنګ کمپیوټر ته یو بریښنایيز ماشین ویلای شو. چې د Data یا معلوماتو د ساتلو ، انتقالولو او اداره کولو وړتیا لري.

Afghan ... udin Computer Center



(c) ketabton.com: The Digital Library



## مایکروسافټ وینډوز (MS Windows)

**وینډوز (Windows)** : وینډوز د مایکروسافټ له کورنۍ څخه ده او تر ټولو مهم عامل سیستم دی. وینډوز له هغه اپریټینګ سیستم څخه عبارت ده چې کمپیوټر کار او فعالیت ته چمتو کوي. مایکرو سافټ وینډوز یو ګرافیکي سیستم دی چې په هغه کې کولی شو تر یوه زیات پروګرامونه خلاص او وکاروو چې د غه عمل د ملټي ټسکینګ (Multy Tasking) په نامه یادیږي.

عامل سیستم په څو ورژنونو (Versions) کې وړاندې شوي ده. لکه: وینډوز ۹۵ ، وینډوز ۹۷ ، وینډوز ۹۸ ، وینډوز ۲۰۰۰ ، وینډوز ایکس پي (Windows XP) ، وینډوز ویسټا (Windows Vista) ، وینډوز سیون (Windows 7) ، وینډوز ایټ (Windows 8) او داسي نور دي . له پورتنیو ورژنونو څخه په اوسني عصر کې تر ټولو کارنده ورژن وینډوز سیون (Windows 7) ، وینډوز ایټ (Windows 8) دی چې د شخصي کمپیوټرونو لپاره ډیر د استعمال وړ دي.





په مایکروسافټ وینډوز کې ځیني کوچني پروګرامونه هم شتون لري چې هر یو یې یوه ځانګړې دنده سرته رسوي. لکه : وورډ پډ (WordPad) ، پینټ (Paint) او داسي نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Desktop:** کله چې مایکرو سافټ وینډوز خلاص کړو د مایکروسافټ وینډوز لومړنۍ صفحه چې د ډیسکټاپ په نامه یادیږي را ښکاره کیږي. په ډیسکټاپ کې کوچني تصویرونه واقع دي چې دغه تصویرونه د ایکن (Icon) په نامه یادیږي.

ډیسکټاپ (Desktop) ایکنونه (Icons)



تسکبار (Taskbar)

ایکن (Icon): په دریو برخو ویشل شوی:

File لکه: 


Folder لکه: 


او Shortcut لکه: 


1) **مختصر امر یا (Shortcut):** د یوه پروګرام په لنډه طریقه خلاصولو ته شارټکټ ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2) **دوسیه یا (Folder):** د فایلونو یا پروګرامونو مجموعه ده چې په کمپیوټر کې ثبت ده او په منظم ډول په کمپیوټر کې ځای پر ځای شوی.

3) **فایل یا (File) :** د پروګرام تر ټولو کوچنۍ برخه ده.

**ټسکبار (Taskbar):** د سکرین لاندنۍ حصه ده چې په هغه کې په لنډ ډول ځینې پروګرامونه خلاصولی شو او په درې ډوله ویشل شوی: **Notification Area** ، **Quick Lunch** او **Start Button**.




**د ایکن خلاصول (Open):** په ایکن دوه ځله کلیک کوو ، یا هم په هماغه ایکن د موس ښی کلیک کوو او وروسته د Open آفشن ته فشار ورکوو ایکن خلاصیږي.

**د ایکن پاکول (Delete):** په ایکن باندې ښی کلیک کول ، وروسته د Delete په افشن کلیک کول او ورپسې چې کله د Yes افشن کلیک کړو ایکن له منځه ځي.

**کاپي کول یا (Copy) :** که وغواړو یو پروګرام یا ایکن دوه ځایه کاپي کړو ، یعني په خپل اصلي ځای کې هم پاته شي او بل ځای ته یې هم ولیږو نو د خپلي خوښي ور په ایکن باندې ښی کلیک کوو او ورپسې Copy انتخابوو.

**قطع کول یا (Cut) :** که وغواړو یو ایکن یا پروګرام له یوه ځایه څخه بل ځای ته انتقال کړو یعني په هغه صورت کې چې پخپل اصلي ځای کې پاته نشي او بل ځای ته یې ولیږو نو په نوموړي ایکن ښی کلیک کوو او د cut افشن انتخابوو او د خوښي ور ځای ته یې لیږلی شو.

**چسپول یا Paste :** کاپي شوی یا کټ شوی پروګرام یا ایکن د خپلي خوښي ور ځای ته لیږلو ته Paste وایي.





Afghan Sayed Jamaludin Computer Center

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ځیني کمپیوټري اصطلاحات

**زما کمپیوټر یعني (My Computer):** د کمپیوټر اصلي دوسیه ده چې د کمپیوټر ټول معلومات پکې ځای پر ځای شوي ، یعني هرڅه چې په (حافظه ، هارډیسک ، سي ډي یا فلاپي) کې موجود دي له دې طریقې څخه یې کولای شو خلاص کړو. او همدا رنګه له دې لارې کولای شو معلومات له سي ډي څخه حافظې ته او له حافظې څخه سي ډي ته انتقال کړو .





**زغاله دانۍ (Recycle Bin):** کوم فایلونه چې له منځه تللي وي په دغه محل کې ځای پر ځای کیږي . یعني Recycle Bin د زغاله دانۍ حیثیت لري ، ګڼه یې دا ده چې کوم فایلونه موږ ډلیټ کړي وي وروسته هغه ته اړتیا پیدا شي کولای شو هغه د Recycle Bin له لارې خپل اصلي ځای ته انتقال کړو او کوم فایلونه یا ډلیټ شوي مواد چې مو پکار نه وي له دې ځایه یې له منځه وړلی شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**Run:** کله چې موږ وغواړو یو فایل یا پروګرام خلاص کړو او لنډه طریقه یې د ډیسکټاپ له لاري وجود ونه لري ، نو کولای شو نوموړی پروګرام د Run له لاري خلاص کړو. یعني لومړی د هغه پروګرام نوم پکې لیکو او وروسته د OK د افشن پواسطه کولی شو چې هماغه پروګرام خلاص کړو.





**څېړل او پلټل (Search):** که چیري د یوه فایل موقعیت راته معلوم نه وي ددې افشن پواسطه کولای شو د هغه نوم په کمپیوټر کې سرچ کړو او ویې پلټو. په دغه محل کې که هر ډول ذخیره شوی فایل وغواړو د هغه نوم ورکولای شو او پیدا کولای یې شو.

**مایکروسافټ (Microsoft):** یوه امریکایي کمپنۍ ده چې سافټ وېر او هارډوېر تولیدوي او بازار ته یې عرضه کوي.

**د رڼا کړکۍ (Windows):** لغوي معنا یې کړکۍ ده خو دلته هغه سیستم ته وایي چې کمپیوټر فعالیت ته چمتو کوي.

**WordPad:** د دغه پروګرام لغوي معنا کلمه ده خو دلته د وینډوز یو پروګرام ده چې د لیکلو لپاره کارول کیږي. او همدارنګه د متني فایلونو د رامنځ ته کولو او سمون لپاره هم کارول کیږي.

Start ——→ All Programs ——→ Accessories ——→ WordPad





Sayed Jamaludin Computer Center

(c) ketabton.com: The Digital Library



**MS Paint:** د دغه پروګرام لغوي معنا رنګ کول دي خو دلته د وینډوز یو پروګرام ده چې د رسامي لپاره کارول کیږي. دا پروګرام د تصویري فایلونو د تصحیح او او را منځ ته کولو لپاره کارول کیږي.

Start ⟶ All Programs ⟶ Accessories ⟶ Paint





**Notepad:** لغوي معنا یې د یادداشت کتابچه ده خو دلته د وینډوز یو پروګرام ده چې د فورمولونو د لیکلو او متن د لیکلو لپاره کارول کیږي.

**Network:** لغوي معنا یې شبکه ده چې دلته د خو کمپیوټرونو د ارتباطاتو د تنظیم دنده پر غاړه لري.

**User:** لغوي معنا یې استفاده کوونکی ده ، چې دلته په هغه چا پوري اړه لري څوک چې کمپیوټر استفاده کوي.

## د کمپیوټر د بندیدلو یا قلف کولو طریقې




لکه څنګه چې یې په شکل کې ګورئ مورږ د کمپیوټر د بندولو لپاره په Start Menu کې بیلابیلې د بندیدلو طرقې لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره طریقه په لاندې ډول تشریح کوو:

Lock: د بندولو په مانا ده چې زموږ کمپیوټر قلف کوي ، خو په user کې چې کوم پروګرام خلاص وي هغه نه بندیږي.

Switch User: که چیرته موږ په خپل کمپیوټر کې مختلف Accounts (حسابونه) ولرو او وغواړو یوه بل Account (حساب) ته دننه شو له دې لارې کولای شو. خو په مخکیني حساب کې چې کوم پروګرام خلاص وي هغه نه بندیږي.

Sign out یا Log off: که چیرته موږ په خپل کمپیوټر کې مختلف اکاونټونه ولرو او وغواړو یوه بل اکاونټ ته دننه شو له دې لارې کولای شو خو په مخکیني اکاونټ کې چې کوم پروګرام خلاص وي هغه بندیږي.

Sleep/ Hibernate: کله چې موږ په کمپیوټر ډېر کار وکړو او وغواړو چې خپل کمپیوټر ته استراحت ورکړو له دې طریقه استفاده کولای شو. خو په user کې چې کوم پروګرامونه خلاص وي هغه نه بندیږي.

Full Shut Down: له دې طریقه کولای شو خپل کمپیوټر په بشپړ توګه بند کړو ، او په کومو پروګرامونو کې چې کار کوو او یا چالان وي په مکمل ډول یې بندوي.

Restart: که چیرته زموږ کمپیوټر مصروفه شوی وي او موږ وغواړو چې خپل کمپیوټر تازه کړو له دې لارې کولای شو. یعني کمپیوټر په بندیږي او بیرته په اتومات ډول په خپله چالانیږي.


Afghan Sayed Jamaludin Computer Center

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Control Panel (کنټرول پینل)

**Control Panel:** معنا يې د پرزو تنظيمول دي خو دلته د وينډوز يوه اساسي دوسيه او مهم پروګرام دی چې د کمپيوټر د پرزو او مفروضاتو د تنظيم او کنټرول لپاره کارول کيږي.




Afghan Sayed

کنټرول پينل د وينډوز د پروګرام ډېره برخه تشکيلوي. په دغه مهمې تولګې کې ځينې مهم کماندونه شامل دي. هر يو به په لاندې ډول له تصويرونو او لنډو تشريحاتو سره تر څيړنې لاندې ونيسو:

**:Action Center**





دغه کماند د کمپيوټر په وينډوز کې د اړتيا وړ ستونزه راته په ګوته کوي. لکه: د Antivirus اړتيا ، د Windows Update اړتيا يا د Windows Backup اړتيا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیرته موږ په Change Action Center Settings کې لاندني کمانډونه له مارک یا انتخاب څخه ایستلي وي ، موږ نشو کولای چې د خپل وینډوز د اړتیا وړ ستونزه وکورو.




**:Administrative Tools**





د کمپیوټر د پرزو او نورو تنظیماتو لپاره کارول کیږي. کله چې دغه کمانډ open کړو ، موږ له Computer Management سره مخامخ کیږو. دغه کمانډ د کمپیوټر د بیلابیلو پرزو تنظیمات ، ډرایونو جوړول ، اکاونټ جوړولو او داسې نورې دندې په غاړه لري.




✓ د Local Users and Groups په سبب کولای شو ، ځان یا بل چاته user account جوړ کړو ، پاسوورډ ورکړو ، فعاله یا غیر فعاله یې کړو.





✓ د Device Manager په سبب کولی شو په کمپیوټر کې نصب شوې پرزې فعاله یا غیر فعاله کړو. لکه: CD Driver ، Mouse ، Keyboard ، USB ، Sound System ، Battery او داسې نور.



(c) ketabton.com: The Digital Library




✓ د Disk Management يا **Disk Management** په سبب کولای شو د خپل هارډيسک اندازه وګورو ، همدارنګه د کمپيوټر په هارډيسک د پارټيشن عمليه اجرا کړو. يعني ددې په سبب کولای شو نوی Drive جوړ کړو ، فرمټ يې کړو ، Delete يې کړو او يا يو Drive په بېلابېلو برخو يا ډرايونو وويشو.




**:AutoPlay** AutoPlay

کله چې کمپيوټر ته فلش ، سي ډي ، مبايل کېبل ، يا نور وسايل وصل کړو ، په اتومات ډول نومورې وسايل په خپله خلاصيږي. ددې کمانډ په واسطه کولای شو ، د نومورو وسايلو په دننه کې فايلونو (لکه: ويډيو ، ميوزيک ، تصوير او داسې نور) ته په اتومات ډول د خلاصيدا يا بنديدا اجازه ورکړو.




**:Color Management** Color Management

په دې کمانډ کې هغه رنګونه يا profiles موږ ته ښکاره کوي چې زموږ په کمپيوټر کې انسټال شوي.


(c) ketabton.com: The Digital Library




## :Backup and Restore





- ✓ د Backup په سبب کولای شو خپله له منځه تللي Data بیرته پیدا کړو.
- ✓ Restore: که مو چیرته د وینډوز د انسټالولو وروسته په خپل کمپیوټر کې کوم پروګرامونه فعال کړي وي یا د هغو پروګرامونو په سبب کوم ویروس کمپیوټر ته دننه شوی وي ، د دې کمانډ په سبب کولای شو ، په وینډوز کې تغیرات راوړو او وینډوز خپله اولنۍ حالت ته راولو. یعنې له restore کولو څخه وروسته په کمپیوټر کې انسټال شوي پروګرامونه له منځه ځي.




## :Date and Time




که چیرته موږ وغواړو د خپل کمپیوټر وخت او نیټې ته تغیر ورکړو له دې طریقه کار اخیستلای شو. ددې تر څنګ کولای شو په خپل کمپیوټر کې Additional یا اضافي وخت او نیټه هم ځای پر ځای کړو. دلته د نورو هیوادونو وخت او نیټه هم معلولای شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## :Default Programs

Default Programs

له دې طریقه لاندې دوه مهمې دندې مطالعه کوو:

Choose the programs that Windows uses by default

Set your default programs
Make a program the default for all file types and protocols it can open.

Associate a file type or protocol with a program
Make a file type or protocol (such as .mp3 or http://) always open in a specific program.

Change AutoPlay settings
Play CDs or other media automatically

Set program access and computer defaults
Control access to certain programs and set defaults for this computer.

✓ د Set your default programs په سبب کولای شو یو پروګرام د هغو فایلونو لپاره وټاکو په کوم کې چې مربوط فایلونه خلاصیدای شي.

Set your default programs
Make a program the default for all file types and protocols it can open.

مثلاً: کوم فایلونه چې وغواړو له Windows Media Player پروګرام سره یې خلاص کړو له پورتنۍ لاړښووني څخه ګټه اخیستلای شو. ددې مثال په ډول نورو پروګرامونو ته هم کولای شو فایلونه وټاکو.

✓ Associate a file type or protocol with a program د پورتنۍ لاړښووني معکوسه عملیه سرته رسوي. یعني په لاندنۍ لاړښوونه کې کولای شو د یوه فایل لپاره هغه پروګرام وټاکو په کوم کې چې فایل خلاصیدای شي.

Associate a file type or protocol with a program
Make a file type or protocol (such as .mp3 or http://) always open in a specific program.

Afghan Sayed Jalaludin Center

(c) ketabton.com: The Digital Library




**مثلاً:** که چیرته موږ وغواړو چې mp3 فایل دې په 


پروګرام کې خلاص شي ، له پورتنۍ لاربښوونې څخه ګټه اخیستلای شو. ددې مثال په ډول نورو فایلونو ته هم کولای شو پروګرامونه وټاکو.


**:Display** 


ددې کمانډ په سبب کولای شو د خپل کمپیوټر د سکرین د متن یا ایکنونو اندازه کوچنۍ یا غټه کړو. یعني له سل سلنه 100% پیل تر 200% پورې یې اندازه کوچنۍ کولای یا لویولای شو.




په Display کې د کمپیوټر د ظاهري بڼې (شکل) د نورو تغیراتو لپاره لاندنې کمانډونه هم تر خیړنې لاندې نیسو:




✓ **Adjust Resolution یا Screen Resolution:** 


په نوموړي کمانډ کې کولای شو د کمپیوټر ظاهري شکل ته تغیر ورکړو. دلته موږ ټیټې (Low) او لوړې (High) اندازې لرو. یعني هر څومره چې لوړ ځو د کمپیوټر د متن یا خط اندازه هم ډیریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کمانډ موږ په Windows 7 کې د ډیسکټاپ پر مخ هم لرو او هلته هغه وخت څرګندیږي چې د موس ښی کلیک وکړو موږ ته د نورو کمانډو تر څنګ Screen Resolution هم را څرګندیږي.




✓ **:Calibrate Color**




په دې کمانډ کې هم کولای شو د خپل کمپیوټر د ظاهري شکل رنګ په ډېر تاریک یا څلا لرونکې ډول ترتیب کړو.

✓ **:Adjust Clear Type Text**




ددې کمانډ په سبب کولای شو د خپل کمپیوټر د ظاهري شکل د متن ( خط لیکلو ) ډول په ډېر تاریک یا څلا لرونکې ډول ترتیب کړو.

**:Devices and Printers**




که چیرته موږ وغواړو په خپل کمپیوټر کې کوم د چاپ ماشین (printer) یا کومه کمپیوټري وسیله (device) انسټال یا وصل کړو له دې طریقه استفاده کولای شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مو نوموړی کمانډ خلاص کړ له لاندنیو دوو کمانډونو سره مخامخ کیږو:





د Add a printer یا Add a device کمانډونو څخه د یوه په کېکاږلو سره باید د خپل پرینټر یا کمپیوټري وسیلي ټول مشخصات راته معلوم وي تر څو په سم ډول په کمپیوټر کي انسټال شي او له کمپیوټر سره وصل شي.

**:BitLocker Drive Encryption**




که چیرته موږ وغواړو د خپل کمپیوټر د معلوماتو د ساتلو په موخه یوه ډرایو (drive) ته پاسوورډ یا رمز واچوو له دي طریقه ګټه اخلو.







د Turn On BitLocker په واسطه کولای شو د ډرایو قلف فعاله کړو ، د Turn Off BitLocker په سبب کولای شو د ورکړل شوي ډرایو قلف له منځه یوسو. همدا رنګه د Manage BitLocker په سبب کولای شو پاسوورډ بدل کړو یا نور تغیرات پکي راولو.

Sayed Computer Center

(c) ketabton.com: The Digital Library



## :Ease of Access Center




دغه کمانډ د کمپیوټر استعمالوونکي ته اسانتیا ور بښي. چې لاندني کارونه سرته رسوي:





## ✓ :Start Magnifier





د دوربین په مانا ده ، کله چې دغه اپشن فعاله وي موږ کولای شو د خپل کمپیوټر په هره برخه کې چې کار کوو راته نږدې کوي یې یعني په غټ شکل یې راته ښکاروي. یا په بل عبارت که چیرته موږ او تاسو ته د خپل کمپیوټر پر مخ کوم ایکنونه یا خطونه نه ښکاري او غواړو چې هغه راته په غټه اندازه ښکاره شي له دې کمانډ څخه کټه اخیستلای شو.


## ✓ :Start On-Screen Keyboard




که چیرته زموږ کیبورډ خراب وي یا زموږ د کمپیوټر د کیبورډ ځیني بټنونه کار نه کوي ، موږ کولای شو له دې کیبورډ څخه کټه واخلو.





## ✓ :Set up High Contrast





که چیرته موږ وغواړو د خپل کمپیوټر ظاهري بڼې لکه: desktop background ، windows color، screen saver ، sounds ته په لوړ توپیر تغیر ورکړو له دې طریقه استفاده کولای شو.

دغه کمانډ موږ په Windows 7 کې د ډیسکټاپ پر مخ کله چې د موس شی کلیک وکړو personalize ته ورشو ، هلته په لاندې ډول راته ځرګندیږي.




✓ :Start Narrator





کله چې دغه کمانډ فعاله وي موږ ته د سکرین پر مخ چې کوم کارونه ترسره کوو هغه په زوره تلفظ کوي. یعني په هر آپشن چې کار کوو هغه په زوره راته لولي.


:Folder Options




په General کمانډ کې ډېر مهم کارونه سرته رسیږي. که وغواړو خپل فولډر په عین وینډو کې راته خلاص شي Open each folder in the same window لاربښوونه انتخابوو. او که چیرته وغواړو چې د هر فولډر د خلاصولو په وخت کې یوه نوې وینډوز راته خلاصه شي Open each folder in the same window لاربښوونه انتخابوو.





کله چې موږ وغواړو د موس په واسطه یو فایل یا فولډر خلاص کړو ، هغه د ډبل کلیک په واسطه یا د یوه کلیک په کیکاږلو سره انتخابولای شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



په View آپشن کې هم ډېر مهم کارونه سرته رسیږي. کله چې موږ وغواړو یو فولډر پټ(hide) کړو له Don’t show hidden files, folders, or drives لاړښوونه انتخابوو ، یا که چیرته یو پټ شوی(hide) فولډر وغواړو بیرته راته ښکاره کړي Show hidden files, folders, and drives لاړښوونه انتخابوو. تاسي یې په لاندې تصویر کې لیدلای شئ.




**:Home Group**





که چیرته موږ په یوه کور ، اداره یا کوم شرکت کې کار کوو ، هلته ډېر کمپیوترونه وي او وغواړو چې خپل کمپیوترونه له یو بل سره وصل کړو ، له دې کمانډ څخه استفاده کولای شو. دغه کمانډ هغه وخت د استفادې وړ ده کله چې موږ له network یعني انټرنیټ سره وصل یو. ددغو لاړښوونو په اساس کولای شو فایلونه ، چاپ ماشینونه ، یا نور کمپیوټري وسایل له یوه کمپیوټر څخه بل کمپیوټر ته د home group جوړولو په اساس وصل کړو.

**:Getting Started**




دلته هغه لاړښوونې یا تنظیمات موږ ته لیست شوي چې زیات د استعمال وړ دي. ددې مربوط کمانډونه موږ په تیرو درسونو کې اکثره لوستي چې ځیني پاتې یې په لاندې ډول دي:

- په لاندنې کمانډ کې موږ د خپل Windows 7 په اړه معلومات کتلی شو ، دا هغه وخت کار کوي کله چې انټرنیټ ته لاسرسی ولرو:





Afghan Sayed Jamaludin Computer Center


(c) ketabton.com: The Digital Library




- که چیرته موږ وغواړو چې په کمپیوټر کې چې کوم تغیرات را منځ ته کیږي همیشه دې موږ ته خبر راکول شي ، له لاندې کمانډ څخه ګټه اخیستلای شو:





- که چیرته موږ په مقابل شکل کې Always notify انتخاب کړو موږ ته د پروګرام د انسټالولو یا وینډوز کې د تغیراتو راوستلو څخه خبروي. خو که چیرته Never notify انتخاب کړو موږ ته له نوموړو تغیراتو څخه خبر نه راکوي.




- که چیرته وغواړو په خپل کمپیوټر کې نوی اکاونټ جوړ کړو له لاندې آپشن څخه ګټه اخیستلای شو ، چې نوموړی اپشن به موږ په راتلونکو درسونو کې ولولو:




**Fonts:**





ټول هغه د لیکلو شکلونه یا ډولونه چې زموږ په کمپیوټر کې انسټال شوي موږ ته ښکاره کوي. ددې تر څنګ کولای شو هغه لیک شکلونه ډلیټ کړو ، ویې ګورو یا یې د خپل لیک لپاره انتخاب کړو.


(c) ketabton.com: The Digital Library




**:Mouse**




په دغه کمانډ کې موږ کولای شو د Mouse یا موږک مربوط تنظیمات وکړو. په Buttons کې موږ کولای شو د خپل موس ښي او کیڼ کلیک تغیر او تبدیل کړو ، همدارنګه د Double-click speed په سبب کولای شو د فولډر د خلاصولو په وخت کې د موس د ډبل کلیکولو سرعت تیز یا کم کړو.





د Pointer په کمانډ کې کولای شو د موس شکل ته بدلون ورکړو هلته موږ د موس بېلابېل شکلونه لرو.




(c) ketabton.com: The Digital Library




په Pointer Options کې کولای شو د موس سرعت تیز یا کم کړو. ددې تر څنګ خپل موس ته بېلابېل تنظیمات ورکولای شو ، چې په مقابل شکل کې یې لیدلای شو:




د Wheel له کمانډ څخه هغه وخت کار اخیستلای شو کله چې له ځان سره موس ولرو. لکه څنګه چې یې په شکل کې ګورو په موس کې د دوو کلیکونو تر منځ یو څرخ ته ورته شکل ده. که چیرته موږ په WinWord پروګرام کې سل مخه لیکل شوی متن ولرو د دغه څرخ د اړولو په سبب کولای شو د متن لاندنی یا پورتنی مخونو ته لاړ شو او له دې طریقه تنظیمات کولای شو.




**:Keyboard**





په دغه درس کې کولای شو د خپل کمپیوټر د کیبورډ یا لیک درې تنظیمات وکړو. د **Speed** په کمانډ کې کولای شو په کیبورډ باندې لیکل کول تیز یا سست کړو. که چیرته په Repeat delay کې Short انتخاب کړو ،د یوه توري د خط لیکلو تکراري حالت سستوي او که یې Long کړو د یوه توري تکراري حالت تیزیږي.


(c) ketabton.com: The Digital Library




که چیرته په Repeat delay کې Fast انتخاب کړو د خط لیکلو سرعت تیزیږي ، خو که چیرته Slow انتخاب کړو د خط لیکلو سرعت سوکه کیږي.





په Cursor blink rate کې د لیکلو په وخت کې د موس یا کرسر د ښوریدلو سرعت تیزولای او سستولای شو.




**:Network and Sharing Center**




په دې کمانډ کې موږ کولای شو کمپیوټر ته نیټورک جوړ کړو یا د هغه نیټورک په واسطه کولای شو خپل فایلونه له نورو کمپیوټرونو سره وصل کړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library




Set up a new connection or network: ددې کمانډ په سبب کولای شو خپل کمپيوټر له نيټورک يا انټرنيټ سره وصل کړو. مثلاً : موږ په کمپيوټر کې د موډيم انټر نيټ لرو ، که وغواړو هغه له ټليفون سره وصل کړو د dial-up connection څخه ګټه اخيستلای شو. کله چې کمپيوټر له نيټورک سره وصلوو د ISP يا هغه کمپنۍ چې موږ ته انټرنيټ راکوي د هغې مشخصات لکه د ټليفون نمبر ، استعمالوونکي حساب نوم ، او پاسوورډ بايد له ځان سره ولرو ترڅو د کمپيوټر په وصلولو کې ستونزه جوړه نه شي.

Connect to a network: ددې په سبب کولای شو له خپل جوړ شوي کنيکشن يا نيټورک سره خپل کمپيوټر وصل کړو.

Troubleshoot problems: ددې کمانډ په واسطه کولای شو د خپل نيټورک مربوط ستونزه پيدا کړو ، يا هم په عمومي ډول د خپل کمپيوټر په نورو برخو کې که ستونزه ولرو کولای شو دلته خپله ستونزه پيدا او د حل لار يې پيدا کړو.

**Notification Area Icons:** 


د ډيسکټاپ په لاندنۍ برخه ټسکباز ښي اړخ کې چې کوم کوچني ايکنونه دي هغو ته ويل کيږي.




د لاندنيو کمانډونو په واسطه کولای شو نوموړي ايکنونه پټ يا ښکاره کړو.




(c) ketabton.com: The Digital Library




**:Personalization**





په دې کمانډ کې هم د کمپیوټر ظاهري ښکلا لکه ډیسکټاپ ته تصویر بدلول ، د ډیسکټاپ ایکنونه بدلول ، د رنګ بدلول ، د غږ بدلول او نورې بېلابېلې دندې سرته رسوې چې په لاندې ډول یې تر ځېړنې لاندې نیسو:




Change desktop icons: که چیرته وغواړو د ډیسکټاپ ایکنونه ډېر یا کم کړو له دې طریقه ګټه اخلو. ددې تر څنګ کولای شو د ډیسکټاپ د پروګرامونو ایکنونه یا د ایکن شکلونه هم بدل کړو.




Change your account picture: کوم user چې موږ فعلاً کار پکې کوو غواړو د هغه تصویر ور بدل کړو له دې طریقه کولای شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library




Desktop Background: ددې کمانډ په واسطه کولای شو د ډیسکټاپ تصویر تغیر کړو.


Windows Color: په سبب کولای شو د خپلې وینډوز یا کړکۍ لپاره رنګ وټاکو ، ددې علاوه موږ د کړکۍ اندازه ، فرمټ او theme هم بدلولای شو.

Sounds: کله چې کمپیوټر خلاصوو کوم غږ وکړي ، کله چې یې بندوو کوم غږ وکړي ، کله چې یو پروګرام بندوو ، یا خلاصوو ، یا کله چې بیټرۍ ضعیفه شي باید کوم ډول غږ وکړي او داسې نور.

Screen Saver: ددې لپاره کارول کیږي چې کله کمپیوټر ته یو وخت ټاکو ، مثلاً که زه په کمپیوټر کې د لسو دقیقو لپاره کار ونه کړم ماته دې یو ډول سکرین یا پرده د کمپیوټر په صفحه ګرزي.




هر کمپیوټر له خپل ځان سره مختلف screen savers لري چې موږ کولای شو له هغوی څخه یو وټاکو.




(c) ketabton.com: The Digital Library




### :Taskbar and Start Menu Properties

دغه اپشن په ټسکبار باندې چې کله د موس ښی کلیک وکړو ځرګندیږي. د ټسکبار او سټارټ مینیو تنظیمات او ځانګړنې راته په ګوته کوي.

په مقابل شکل کې یې لیدلی شو:





**Taskbar Property:** د ټسکبار بېلابېلې ځانګړتیاوې تر ښېړنې لاندې نیسي. مثلاً: د Lock the Taskbar په مارک کولو سره کولای شو ټسکبار قلف کړو یا یې له قلف حالته وباسو. د Use Small Icons په واسطه کولای شو د خپل ټسکبار ایکنونه کوچني کړو. د Taskbar location on screen په سبب کولای شو د خپل ټسکبار موقعیت ته تغیر ورکړو، یعني کولای شو ښي اړخ، کیڼ اړخ، پورته یا کښته اړخونو ته یې یوسو.




**Start Menu Property:** دلته د Start Menu د پروګرامونو، ایکنونو او مینو ګانو تنظیمات کولای شو. په Customize کې د هر پروګرام لپاره درې(۳) کمانډونه شتون لري؛ Display as a link د ټاکلو په صورت کې کولای شو پروګرام د لینک په بڼه په سټارټ مینیو کې درج کړو، د Display as a menu ټاکلو په صورت کې کولای شو یو پروګرام د مینیو په بڼه ترتیب کړو او د Don't display this item په سبب کولای شو نوموړی پروګرام له سټارټ مینیو څخه له منځه یوسو.


(c) ketabton.com: The Digital Library







په Start menu size کې کولای شو د سټارټ مېنیو د ایکنونو او پروګرامونو تعداد زیات یا کم کړو.

د Power button action کمانډ په واسطه کولای شو د په سټارټ مېنیو کې د Power button د عمل اجرا ته تغیر ورکوي ، یعني کله چې په Power button کلیک وکړو باید څه وشي.





**Toolbars:** که چیرته وغواړو چې د ډیسکټاپ په لاندنۍ برخه یعني ټسکبار باندې کوم تولبار یا فولډر راولو ترڅو په لنډ ډول هغه ته ددننه شو له دې طریقه استفاده کولای شو. د Address په کېکاږلو سره کولای شو یو اډرس په ټسکبار باندې راولو چې په هغه ادرس کې کولای شو نور پروګرامونه هم خلاص کړو.




(c) ketabton.com: The Digital Library



**:Programs and Features**




که چيرته مو په کمپيوتر کې پروګرامونه انستال کړي وي او وغواړو هغه بيرته له انستاليشن يا کمپيوتر څخه وباسو له دې کمانډ څخه ګټه اخيستلای شو. کله چيرته غواړو کوم بې ګټې پروګرام له منځه يوسو په هماغه پروګرام کليک کوو Uninstall انتخابوو ، وروسته yes انتخابوو له څو ثانيو وروسته هماغه پروګرام له منځه ځي.





**:Power Options**




دغه کمانډ کمپيوټر کنټرولوي. يعني که چيرته موږ د لسو يا څو دقيقو لپاره په کمپيوټر کې کار ونه کړو ، دلته داسې يو کنټرول ورته انتخابولای شو چې خپله کمپيوټر بند شي يا sleep شي. له دې طريقه ګټه اخيستلای شو.


په Power Options کې درې (۳) ډوله تنظيمات شتون لري: Balanced ، Power saver او High Performance چې هر يو له خپل ځان سره يو پلان لري.




(c) ketabton.com: The Digital Library



له دریو ډولونو څخه د هر یوه په انتخابولو سره کولای شو د Change plan settings په واسطه تغیرات راولو. د Turn off the display مورږ ته ښیي چې منیټور دې د څومره وخت کار نه کولو وروسته بند شي. او Put the computer to sleep کمپیوټر دې د څومره وخت کار نه کولو وروسته sleep شي.




په Power Options کمانډ کې څیني نور کمانډونه هم لرو چې بېلابېلي دندې سرته رسوي.




Require a password on wakeup ددې لپاره کارول کیږي کله چې منیټور بند یا sleep شي ، د خلاصولو په صورت کې پاسورډ وغواړي یا یې ونه غواړي تاکلی شو.


د Require a password په انتخابولو سره له مورږ څخه د کمپیوټر د بیرته چالانولو په صورت کې پاسورډ غواړي خو که چیرته Don't require a password انتخاب کړی وي پاسورډ نه غواړي.

Choose what power button does: کله چې د کمپیوټر د CPU پاور بټن (Power button) ووهو باید کوم عمل ترسره کړي. د هغه په کېکاږلو سره کمپیوټر Shut down شي ؟ Sleep شي ؟ یا Do no thing شي یعني هیڅ عکس العمل ونه ښیي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library




Choose what/when closing the lid does: کله چې کمپیوټر lid کړو یعني د لپتاپ کمپیوټر سر (؟) ور باندې را بند کړو ، باید کوم عمل ترسره کړي. ایا د هغه په کېکاږلو سره کمپیوټر Shut down شي ؟ Sleep شي ؟ یا Do no thing شي یعني هیڅ عکس العمل ونه ښیې ؟ له دې کمانډ څخه کټه اخیستلای شو.





Create a new plan: دلته کولای شو د خپلي خوښي یا د خپل ځان په نامه یو کنټرول جوړ کړو.

**Phone and Modem:**




که چیرته وغواړو کمپیوټر کې د ټلیفون لین له لارې انټرنیټ وصل کړو ، باید په کمپیوټر کې موډیم وي ترڅو کمپیوټر کې انټرنیټ وصل کړو.

یعني موډیم له دې طریقه انسټالولای شو. هلته موقعیت ، کوډ ، د موډیم نور مشخصات لکه د موډیم کمپیني او ماډل انتخابوو ترڅو موډیم انسټال شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library




## :Recovery





په تېرو درسونو کې مو هم وويل چې د Recovery په واسطه کولای شو د وینډوز سیستم لومړني حالت ته راولو. که چيرته کمپيوټر يا وينډوز ته د ځينو پروګرامونو له امله ويروس دننه شوی وي او وغواړو هغه ويروس له منځه يوسو له دې طريقه ګټه اخيستلای شو. دغه کړنه دکمپيوټر په شخصي ډيټا تاثير نه کوي خو کوم پروګرامونه چې انستال شوي هغه له منځه ځي.

کله چې په Open System Restore باندې کليک کړو ، موږ ته ځيني نېټې توصيه کوي چې تاسي کومې نېټې ته غواړئ خپل کمپيوټر restore کړئ؟ کولای شو د next په واسطه هغه ته ادامه ورکړو او د finish په کېکاږلو سره د restore عمليه پيليږي.




## :Region and Language




په دغه درس کې د سيمې او ژبې په اړه تغيرات راوستلای شو.


په Format کې کولای شو نېټې ، وخت ، پولي واحد او عددونو ته بيلابيل فرمتونه يا بڼې ورکړو. په Location کې کولای شو د خپل هيواد نوم وټاکو ، دا ځکه مهم ده کله چې په ګوګل کې کار کوو موږ ته د خپل هيواد د هوا حالاتو يا تازه خبرونو په اړه معلومات راکوي.

Afghan Sayed Computer Center

(c) ketabton.com: The Digital Library



په Change keyboard کې د لیکلو لپاره په کیبورډ کې ژبه ټاکلای شو ، د Add په واسطه کولای شو ژبې وټاکو او د Remove په واسطه کولای شو انتخاب شوې ژبه له انتخاب څخه وباسو. په Install/ Uninstall languages کې کولای شو نوې ژبې انسټال کړو یا موجوده ژبې له انسټالیشن څخه ایستلای شو.




**Speech Recognition:**




**Start Speech Recognition:** په دې کمانډ کې کولای شو د خپل غږ په واسطه بدون له موس او کیبورډ څخه په کمپیوټر کې کار وکړو او یا پروګرامونه خلاص او بند کړو.

**Set up microphone:** دلته خپل کمپیوټر ته مایکروفون بسته کولای شو ، او کتلی یې شو چې ایا مایکروفون کار کوي او کنه.

**Take Speech Tutorial:** په دې کمانډ کې کولای شو زده کړو چې څنګه خپلې خبرې د پروګرامونو د خلاصولو لپاره وکاروو. ځینې لارښوونې راکوي چې څنګه کمپیوټر د خبرو په وړاندې وکاروو.


**Train your computer to better understand you:** که چیرته زموږ له غږ سره کمپیوټر ستونزه ولري یا زموږ ژبنۍ لهجه نشي پیژندلای ، په دې کمانډ کې زموږ خبرې او لهجه د یوه متن په لوستلو سره تقویه کوي ، ترڅو کمپیوټر زموږ له غږ سره بلد شي.

Afghan Sayed Jamaludin Computer Center

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاندني شکل کې پورتني شرح شوي کمانډونه لیدلی شئ:





**:Sound**




په دې درس کې کولای شو د اوریدونکو وسایلو او غږیزو پروګرامونو تنظمات وکړو.

په Playback کې د Speaker په کمانډ کې کولای شو د خپل کمپیوټر د سپیکر نوم ، ایکن بدل ، او غږ لوړ یا ټیټ کړو.


په Recording کې کولای شو کله چې په کمپیوټر کې غږ ثبتوو ، تنظیمات یې کولای شو. په Sound کمانډ کې د پروګرامونو بندولو ، خلاصولو ، کمپیوټر بندولو ، خلاصولو او داسې نورو کړنو لپاره غږ ټاکلای شو.




(c) ketabton.com: The Digital Library




**:System**





که چیرته غواړو د خپل کمپیوټر د وینډوز سیستم په اړه معلومات وګورو د system له لارې ټول هغه معلومات کتلی شو ؛ چې کومه وینډوز ، د کومې کمپنۍ پکې انسټال شوې. ددې ترڅنګ یوخه معلومات د خپل کمپیوټر په اړه لکه RAM او Processor هم راکوي.




**:Troubleshooting**




په عمومي ډول که په خپل کمپیوټر کې که ستونزه ولرو کولای شو دلته خپله ستونزه پیدا کړو او د حل لاره ورته ولټوو. یعني که چیرته پروګرامونه ، کمپیوټري وسایل ، انټرنیټ ، ظاهري ښکلا ، امنیتي سیستم ، د وینډوز سیستم یا په تولیز ډول زموږ هارډویر یا سافټویر کومه ستونزه ولري له دې لارې ستونزه پیدا کولای او حل کولای شو.




(c) ketabton.com: The Digital Library



**:User Accounts**




که چیرته موږ یو کمپیوټر او څو استعمالوونکي ولرو ، وغواړو چې هر استعمالوونکی باید له ځان سره یو Account یا حساب ولري ترڅو په خپل خپل حساب کې کار وکړي له د User Accounts څخه ګټه اخیستلای شو.




د حساب په جوړولو کې هم ډېرې خبرې دي چې په لاندې ډول یې په لنډ ډول شرح کوو:

Create a password for your account: په دې کمانډ کې کولای شو خپل جوړ شوي حساب ته پاسوورډ ورکړو.

Change your picture: که چیرته وغواړو خپل حساب ته یو خاص تصویر ورکړو له دې طریقه ګټه اخیستلای شو.


Change your account name: دلته د خپل جوړ شوي حساب نوم بدلولای شو.

Change your account type: په دې کمانډ کې کولای شو د خپل جوړ شوي حساب ډول ته تغیر ورکړو. دلته د حساب په ډولونو لومړی باید ځانونه پوه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کمپیوټر کې دوه ډوله حسابونه شتون لري:





۱. **Administrator Account**: دغه حساب د کمپیوټر بشپړ واک له ځان سره لري. په کمپیوټر کې هر ډول تغیرات راوستلای شي. د دغه حساب استعمالوونکی کولای شي پروګرامونه انسټال کړي ، پاک کړي ، پاسورډ بدل کړي. همدرنګه د کمپیوټر په تنظیماتو کې هم بدلون راوستلای شي.

۲. **Standard Account**: د دغه حساب د استعمالوونکي واک محدود دی. استعمالوونکی کولای شي د کمپیوټر ټول پروګرامونه استعمال کړي ، خو د کمپیوټر د پروګرامونو د له منځه وړلو ، بل حساب ته یا د بل حساب امنیتي دستګاه ته د ننه کیدلو واک نه لري.

Manage another account: په دې کمانډ کې کولای شو یو نوی حساب جوړ کړو ، جوړ شوی حساب پاک کړو او تر څنګ یې نور تغیرات هم راوستلای شو.

لکه څرنګه چې یې په لاندني شکل کې ګورئ په نوموړي آپشن کې کولای شو نور جوړ حسابونه هم کنټرول کړو. د Change the account name په واسطه د حساب نوم بدلولای شو. د Create a password په واسطه پاسورډ ورکولای شو. د Remove a password په واسطه حساب ته ورکړل شوی پاسورډ له منځه وړلای شو. ددې ترڅنګ نور تغیرات هم پکې راوستلای شو.




(c) ketabton.com: The Digital Library




**:Windows Firewall** 


که چيرته مو د نيټورک له لاري خپل کمپيوټر له بل کمپيوټر سره وصل کړی وي او وغواړو د وصل شويو کمپيوټرونو تر منځ يو د اور ديوال جوړ کړو ، چي د هغه کمپيوټر استعمالوونکی او موږ د يوه بل په کمپيوټر کي کار ونشو کړلای ، يوه بل ته ويروس ونه شو ليږلای يا د يو بل له کمپيوټر څخه کوم شی غلا نشو کړای له دي کماند څخه ګټه اخيستلای شو.

په کمپيوټر کي دوه ډوله Firewall شتون لري ؛ يو home network دی ، بل public network دی. که مو چيرته په يوه کور کي نيټورک جوړ کړی وي هغه ته home network ويل کيږي. که چيرته مو په يوه اداره ، رياست يا وزارت کي نيټورک جوړ کړی وي هغه ته public network ويل کيږي.





که چيرته وغواړو چي دغه د اور ديوالونه فعال کړو ، لومړی 

ته ځو ، وروسي د فعالولو لپاره Turn on Windows Firewall مارک کوو. او که چيرته يي غير فعالوو د Turn Windows Firewall off له طريقه استفاده کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاندني شکل کې يې د فعالولو او غيرفعالولو طريقه عملاً ليدلای شو:




**:Windows Update**




که چيرته موږ وغواړو چې خپل وينډوز update کړو يا يې نوي کړو له دې کمانډ څخه ګټه اخيستلای شو. موږ هغه وخت وينډوز اپډيټ کولای شو کله چې موږ قوي انټرنيټ ولرو. د check for updates په کيکاږلو سره کولای شو دغه عمليه ترسره کړو.

د بشپړ لاربنود په تمه اوسئ!

ان شاء الله

پای

(غزني ښار- د مرغومي مياشتي ۲۲ مه نيټه – جمعي شپه - د شپې يوه بجه)

Afghan Sayed Jamaludin Computer Center

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**